دے ته نه وے رارسیدلے چه مونږه پخپله د پختونخواه په اسمبلئ کښ دا خبره کوؤ۔ نو لهٰذا جناب سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت باندے، دے کمپنی له دومره سنګینه سزا ورکول پکار ده چه آئنده د پاره دا جرأت څوک اونکړے شی۔ ګورئ، زمونږه د قرآن آیات چه شروع کیږی "ا لم ه ذلک الکتب لا ریب فیه هدی للمتقین ه الذین یومنون بالغیب ویقیمون الصلوة ومما رزقنهم ینفقون ه نو زمونږه خو دا ایمان دے او دلته د دے موجوده حکومت چه دا د اسلامی نظام داعیان دی او اسلامی نظام راولی، خو ما ته رایادیږی چه دا جوړ د اکبر بادشاه هغه "دین الٰهی" جوړوی، نو ستاسو په وساطت دوئ ته هم دا وایم چه مهربانی اوکړی د دے نوټس واخلی او دے سړی له، زما په خیال دا سړے واجب القتل دے چه ده یوه ډیره سنګینه ګناه کړے ده چه ده په قرآن کښ غلطئ راوستے دی، دا سړے د معاف کیدو نه دے او ده سره نرمی نه ده پکار۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی، نجم الدین خان۔

<u>جناب نجم الدین</u>: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ زما خو خپل دا خیال وو، ما وئیل چه د دے ټولو تحاریک التواء نه زمونږه دا ډیرضروری دے ځکه چه مذهبی مسئله ده او په قرآن شریف کښ د غلطو، خان لالا خبره اوکړه، ما سره هغه قرآن شریف دلته پروت دے، دا نن زه یو پوائنټ به ورته

ښایم، دا په بازارکښ Openly * +، دے کښ دا اخبار والا او خلقو په دغه کښ راوستی ده، "قرآن کی طباعت میں"، دا روزنامه "خبریں" لیکلی دی، "قرآن کی طباعت میں سنگین غلطیاں، عوامی حلقوں میں شدید رد عمل، قدرت الله اینڈ کمپنی لاہور کے طباعت شدہ قران مجید مارکیٹ میں پہنچ گئے ہیں۔ مختلف سپاروں کو گڈ مڈ کر دیا گیا، ترتیب ٹوٹے جانے والے کلام الٰہی کے اصل معنی و مفہوم تبدیل ہوکر رہ گئے ہیں"۔ بیا جی ډیلی "مشرق" هم لیکلی دی "مارکیٹ میں غلطیوں پر مبنی قرآن پاک کی موجودگی"، بیا جی روزنامه "آج" هم لیکلی دی، "قدرت الله اینڈ کمپنی کے تیار کردہ قرآن میں سنگین غلطیوں کا انکشاف"، بیا جی روزنامه "میدان" هم لیکلی دی، "مارکیٹ میں لفظی غلطیوں کے حامل قرآنی نسخوں کی موجودگی کا انکشاف"، قران شریف دا

---

+ *. بحکم جناب سپیکر صاحب حذف کیا گیا۔

دے او دا په Open مارکیټ کښې شته دے جی۔ زما صرف درخواست دا دے چه په دےکښې مختلف آیاتونه، بلکه چه کوم د دے پریس شوے دے، په هغے کښې دوئ دا غلطی کړے ده چه یو آیات ئے راغستے دے، بیا هغه ئے په مینځ کښې پریښودے دے، بل ئے ورسره شروع کړے دے۔ بیا مختلفو طریقو باندے یو سپارے پانړه ئے راغستے ----

جناب سپیکر: ټائیټل ئے څه دے، ټائیټل ئے څه دے؟ قرآن مجید دے که څه دے؟

جناب نجم الدین: القرآن الحکیم۔

جناب سپیکر: ولے بعضِ وخت پنج سورة کښې یو آیت وی یا څه وی یا څه وی، داسے ----

جناب نجم الدین: تاسو ته به پیش کړو جی۔ دا مکمل هغه کومو کومو کښې چه فرق دے، هغه مونږه Flag کړی دی جی، دلته شته دے، مونږه صرف دا وایو چه تر دے حده پورے، تیره پیرا هم مونږ په دے ----

جناب عبدالسبحان خان (وزیر اطلاعات) " نجم الدین صاحب! که دغه آیاتونه لږ. واوروئ چه کوم کوم کښې غلطئ دی نو مونږه به لږ په پته پوهه شو۔

جناب نجم الدین: داسے شے دے جی، انشاء الله تعالٰی وا وروو به ئے هم۔ خبره واورئ، ما ته دومره پتانم که ملاوُ شو، دا ټولے خبرے به اوکړم، خبره واورئ جی، خو زما لږ عرض دے، زه ستاسو په نوټس کښې دا خبره راولم یعنی د قرآن شریف متعلق خبره هم په منسټر صاحب بده اولګیده، دومره بده اولګیده چه مونږ وایو، تیره پیرا د دوئ په کارخانو کښې کپړے جوړے شوے، په هغے د الله تعالٰی پاک نوم لیکلے شوے وو۔ نن دا قرآن شریف، دا په سینیټ او په قومی اسمبلئ کښې هم دا خبره شوے ده، په هغے کښې هم په دے باندے Discussion شوے دے لیکن په دے صوبه سرحد کښې په اوپن مارکیټ کښې دا قرآن شریفونه پراته دی۔ زه ستاسو په وساطت سره د حکومت د دے وزیرانو صاحبانو په نوټس کښې راولم، دوئ خو مونږ باندے دا اعتراض کوی چه قرآن شریف اولوله، د هغے خبرے د کټ کولو د پاره

دوئ يو طريقه کار جوړ کړے دے، خو زما دا عرض دے جی، مونږه شکر الحمد لله مسلمانان يو او زه او خان لالا خو بيا شکر الحمد لله تبليغيان هم يو، نو مونږه جی دا څيزونه نوټ کړی دی، ستاسو په نوټس کښې نے راولو، آيا دے حکومت مونږ له د دے څه طريقه کارکوی؟ او زه د اسمبلئ ټولو ممبرانو ته وايم، دا د يو مسلمان په حيثيت په تاسو فرض کيږی، دے خبره کښې د خنده خبره نشته دے، نن شکر دے په دنيا کښې او په پاکستان کښې په لکهونو خلقو قرآن شريف په ياد کړے دے، مختلف ځايونو کښې قرآن شريفونه ونيلی کيږی، ټهيک ده په پنجاب کښې به، نه يم خبر چه څه طريقه کار وی خو دومره قدر له خبره ده چه په دے خبره باندې په مکمله طريقه باندے احتجاج پکار دے او حکومت له دا پکار دی چه په مارکيټ کښې په دے پيسے اوګرځی او چه کوم ځائے کښې دا غلطے نسخے وی چه هغه ضبط کړی او چا سره چه دی او چا د دے ډليوری کړے وی، د هغوی خلاف سنګينه کارروائی اوکړی، د هغے باوجود دوئ په مونږه پورے خاندی نو دا خو په مونږه پورے خندل نه دی جی، دا د الله دين پورے خندل دی چه دوئ د هرے خبرے نه ګپ جوړوی۔

<u>جناب اکرم خان درانی</u>، جناب سپیکر صاحب! ------

<u>جناب سپیکر</u>۔ ایک منٹ، ایک سیکنڈ۔ لاءمنسٹر صاحب! Personally I feel اگر اس طرح ہوا ہو تو This is a cognizable offence. آپ لاء ڈیپارٹمنٹ سے Consult کریں If a cognizable offence has been committed, you should proceed against the person. يو منټ جی، پہلے وہ بتائیں۔ جی، والٹر صاحب!

<u>جناب والٹر مسیح</u>۔ سپیکر صاحب! اسی ضمن میں میں بات کرنا چاہتا ہوں کہ نجم الدین صاحب کہہ رہے ہیں کہ ہم سب مسلمان ہونے کے ناطے جتنی بھی اس چیز کی مذمت کریں، کم ہے اور میں یہ سمجھتا ہوں کہ ہم اقلیت ہونے کے ناطے اس چیز کی حمایت کرتے ہیں اور میں سمجھتا ہوں کہ یہ پاک کتاب ہے، ہم اس کا احترام کرتے ہیں۔ ہمیں پیدائشی طور پر خدا تعالیٰ کی مہربانی سے گھر میں سکھایا جاتا ہے کہ آپ کسی کے مذہب کو برا نہیں کہہ سکتے۔ ہم پاکستانی ہیں، مسلمان ہمارے بھائی ہیں۔ نجم الدین صاحب اور عبدالرحمان خان نے قرآن پاک کے متعلق جو بھی پیش کیا ہے، جبکہ اقلیتوں کو 295

(C) کے تحت سزائے موت دی جا سکتی ہے، تو میں آج برملا اس اسمبلی فلور پر آپ سے اس چیز کا تقاضہ کرتا ہوں کہ آپ ہاؤس کے Custodian ہیں، جب اقلیتوں کو، اگر وہ قرآن پاک کی بے حرمتی کریں، تو (C) 295 کے تحت سزائے موت دی جائے گی تو کیا آپ مجھے یہ بتائیں گے کہ قدرت اللہ اینڈ کمپنی والے، میں چاہتا ہوں کہ جس طرح ان بھائیوں نے کہا ہے، یہ کمپنی والے، جتنے لوگ بھی ہیں، تمام سٹاف کو سزائے موت ہونی چاہئے اور یہ انصاف ہوگا۔ (تالیاں) اگر ان کو سزائے موت نہیں دی جائے گی، تو میں سمجھوں گا کہ پاکستان میں اقلیتوں کے ساتھ امتیازی سلوک کیا جاتا ہے جبکہ فلور پر اس چیز کا ثبوت اسمبلی کے ممبرز آج آپ کے سامنے پیش کر رہے ہیں، ہم پر تو نہ شہادت ہوتی ہے، نہ ہی ہمارا کوئی وکیل کیس لینے کیلئے تیار ہوتا ہے، تو میری یہ Request ہے آپ سے کہ خدا کی مہربانی سے ہم آپ لوگوں کے ساتھ ہیں، ہم ان چیزوں کا احترام کرتے ہیں، ہم اس چیز کی جسارت نہیں کر سکتے، "قدرت اللہ" والوں کو سنگسار کیا جائے، سرعام لٹکایا جائے تاکہ دوسرے لوگوں کیلئے ایک عبرت ہو۔ شکریہ جی۔

جناب اکرم خان درانی۔ جناب سپیکر صاحب! -----

وزیر جنگلات۔ جناب سپیکر! یو منٹ، خبرہ کومہ جی -----

وزیر اطلاعات۔ سر! ماتہ یو منٹ ------

وزیر قانون و پارلیمانی امور۔ جناب سپیکر صاحب! گزارش یہ ہے، جیسے آپ نے مجھ سے فرمایا تو آپ کے حکم کے مطابق ہوگا۔ یہ واقعہ بڑا سنجیدہ، اہم اور دلی نوعیت کا ہے اور یہ انتہائی گستاخی ہے، بہت بڑا جرم ہے کہ کوئی پبلشنگ کمپنی مذہب کے نام پر پیسے بھی کماتے ہیں، قرآن کریم جیسی عظیم کتاب میں تحریف اور گستاخی کے مرتکب ہوئے ہیں غلط آیات چھاپ کر، یہ شائع کرنا قانوناً بھی جرم ہے، مذہباً بھی جرم ہے اور میں مشکور ہوں محرکین کا جنہوں نے ایوان کی توجہ اس جانب مبذول کرائی اور جناب والا سراج صاحب نے بھی بڑے اچھے خیالات کا اظہار کیا ہے اور اس میں کوئی شک نہیں کہ دین کا مجرم، مذہب کا مجرم ناقابل معافی ہے اور اس کو سخت سے سخت سزا ملنی چاہئے اور جناب والا، اسلامی نظریاتی کونسل نے بھی اس بات کا نوٹس لیا ہے اور جو رپورٹ ہمارے پاس اب آئی ہے، اس میں بھی اس گستاخی کا ذکر ہے۔ میں بالکل اتفاق کرتا ہوں اور میں آپ کو یقین دلاتا ہوں کہ آپ بھی نشاندہی کریں اور حکومت کی

جانب سے بھی جس جگہ اور جہاں جہاں بھی جن کتب خانوں میں، جن اداروں میں قرآن کی تحریف شدہ آیات موجود ہیں، ان کو ضبط کیا جائے اور ان کے خلاف سخت تادیبی کارروائی کی جائے جو قانون کے مطابق ہو اور ان چوروں، ظالموں اور مذہب سے مذاق کرنے والوں کو ہرگز معاف نہیں کرنا چاہئے۔ میں تمام ایوان کا بھی شکریہ ادا کرتا ہوں اور جنہوں نے پوائنٹ آوٹ کیا ہے، ان کا بھی شکریہ، جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: میں نے آپ سے جو Request کی تھی، That was quite different اسلامی کونسل والے بھی اپنا کام کریں گے، لاہور والے بھی اپنا کام کریں گے اور کراچی والے بھی، میں نے آپ سے عرض کیا تھا کہ Please consult your Law Department and in case, it is a cognizable offence, then you should register a criminal case against those persons.

وزیر قانون: جناب سپیکر! یہی گزارش میں نے کی تھی، غالباً آپ سن نہ سکیں ہوں گے کہ ان کے خلاف حکومت کارروائی کرے گی اور جہاں جہاں یہ قرآنی آیات موجود ہیں، کتاب موجود ہے غلط صورت میں، ان کو ضبط کیا جائے گا اور ان لوگوں کے خلاف کارروائی کی جائے گی۔ جناب! یہ میری پہلی Submission تھی۔ اگر حکومت کی جانب سے یہ ہوا تو میں اس کی اسلئے وضاحت کرنا چاہتا ہوں کہ حکومت کی تو اس میں کوئی Intention نہیں ہے جو دین کے ساتھ انحراف کرتا ہے، یہ حکومت تو اسلامی آئین کی بات کرتی ہے، اس ملک میں شرعی قوانین کی بات کرتی ہے تو اس کی مخالفت کرنے والے جو لوگ ہوں گے تو غالباً ان کی طرف سے یہ سازش ہوگی کہ وہ قرآنی شعائر کا مذاق اڑا رہے ہیں۔ حکومت کی نیت تو بڑی صاف ہے اور اس کیلئے صوبائی حکومت اپنی طرف سے ان لوگوں کے خلاف ضرور تادیبی کارروائی کرے گی جو اس جرم کے مرتکب ہوئے ہیں۔

جناب سپیکر: ہاں جی، سبحان خان۔

وزیر اطلاعات: شکریه، سپیکر صاحب۔ زمونږ عبدالرحمان خان، قابل احترام ممبر چه هغوی ته په ورځه کښې د پلار نیکه یوه ډیره لویه لائبریری ملاؤ شوې ده، هغوی چه د مذهب متعلق کوم شے پوائنټ آوټ کړو، دغه شانتے "مولانا نجم الدین صاحب" هم چه څه اوفرمائیل، زمونږه د جذباتو او د

احساساتو ترجمانی ئے اوکړه۔ هغه ته زما د خبرے نه، هغه ما څه په داسے بد نیت باندے نه وو ونیلی یا والټر سراج، زمونږ ګران آنریبل ممبر اوفرمائیل نو غالباً دوئ ته به هم یاد وی او والټر سراج، زما په خیال هغه طرف ته اشاره اوکړه چه په تیر ګورنمنټ کښې درے څلور کسان اولګیدل او هغوی په لاهورکښې په دیوالونو باندے چاکنګ اوکړو او هغوی د توهین رسالت مرتکب شو۔ د دغے جرم او بیا زه په دے خبره باندے جی، داسے که غلط خلق پیدا شوی دی نو مسلمه بن کذاب هم په یو وخت کښې پیدا شوے وو، ابوجهل اوابولهب هم د حضور پاک صلی الله علیه و آله وسلم په وخت کښې وو، غلط خلق په هره معاشره کښې وی، د هغے ذمه داری به په ګورنمنټ هله راځی چه ګورنمنټ هغوی ته سزا ورنکړی خو بیا هم زه په دے باندے ویاړ محسوسه ووم چه د توهین رسالت قانون پاس کړے دے نو دا د میاں محمد نوازشریف تیرے اسمبلئ د 1990 نه تر 1993 پورے چه کومه وه، دا هغوی پاس کړے دے او Amendment پکښې په Two third majority شوے دے، د هغه دوام دے۔ والټر سراج چه کومه نشاندهی اوکړه چه عیسایانو ته پکښې جی، نو هغه خو ډیره د افسوس خبره ده، که زه Detail کښې ځم او تاریخی واقعات بیانوم، حالانکه په دے باندے خو هر یو مسلمان، زه خراج تحسین پیش کوم عبدالرحمان خان ته او نجم الدین خان ته چه دوئ یو داسے شے پوائنټ آوټ کړو څکه چه کله د خدائے پاک، د خدائے د رسول او د خدا ئے د کتاب متعلق مسئله شی، نو د هغے متعلق دا مسئله ده چه وائی ته به جهاد کوے، هغه وخت کښې توره وه او اوس به ټوپک او کلاشنکوف راځلے۔ دویم د هغے متعلق ده چه هغه سره به په خله باندے، په تحریر او په تقریر به د هغے مقابله کوے او که چرے په هغے ته نه ئے نو په زړه کښې ته د هغے نه کرکه اوکړه۔ قابل احترام سپیکر صاحب، وائی چه که چرے دا دریمه درجه هم ډیره لاندے درجه ده، دے نه لاندے درجه د خدا ئے زمونږه په ذهن کښې هم نه راولی، دا خو هډو څه تصور نه شی کیدے خو هغه تیر ګورنمنټ چه د هغه قانون توهین رسالت قانون پاس شوے وو، دا دوئ چه څنګه اوفرمائیل، هغه عیسائیانو ته چه چا چاکنګ کړے وو، یو ایماندار جج، یو Honest

judge سزائے موت ورکړو۔ نو سر، تاسو ډیر زیات سینیئر یئ، پخپله د هائیکورټ او د سپریم کورټ وکیل پاتے شوی یئ، په لس ورځو کښ په هائیکورټ کښ هغه ججان چه هغه په هغه ټائم کښ په ایډهاک یا په ډیارئ مقرر شوی وو چه هغوی شیخ رشید ته هم سزا ورکړے وه، Within ten days هغه کیس هم راووتو، Decision پرے هم اوشو، هغوی Acquit هم شو او تیر گورنمنټ هغوی له بکسونه ورکړل، زما په خیال باندے څه پانچ هزار ډالرے ورکړے او هغوی نے جرمن ته باعزته طریقے سره رخصت کړل۔ تر څو پورے چه زمونږ د گورنمنټ مسئله ده جی، داسے خلق، داسے مجرمان به بالکل د سزا نه نه شی بچ کیدے او مونږه په دے کښ د عبدالرحمان خان او د نجم الدین خان چه دوئ کوم خپل فرض پورا کړو، زه بیا بیا د هغوی شکریه ادا کوم خو والتر سراج صاحب ته دا وایم چه آرټیکل 36 تاسو په Constitution کښ اوگورئ، په هغے کښ د Minority د حقوقو تحفظ شته۔ په اسلام کښ د حقوقو تحفظ شته خکه چه وائی چه ته د بل مذهبی درسگاه ته یا مذهبی عبادت خانے، که هغه چرچ دے، که هغه درمسال دے، که هغه درگاه دے، هغے ته به تاسو د عزت په نظر باندے گورئ، هغے ته به نقصان نه رسوئ۔ د هغے فلسفه دا ده جناب سپیکر صاحب، چه هسے نه چه سبا له ستا عبادت گاه ته څوک نقصان اورسوی۔ نو تر څو پورے چه د گورنمنټ خبره ده، گورنمنټ په نظر کښ، مونږه د دوئ بالکل مشکور یو، انشاء الله ایکشن به اغستے شی او د هغے سړی چه کوم، دوئ به دا مهربانی کوی که دوئ ته دا کتاب ملاؤ شوے وی چه کوم مشران یا دلته کوم کسان بُک سیلرز داسے قسم کتاب خرڅوی، هغوی د مونږ سره دا امداد اوکړی، نور تاسو لیگل طریقه هم لاء اینډ پارلیمنټری منسټر ته دغه کړه، هغه ستاسو حکم دے، رولنگ دے او دا هم په خانے باندے ده، داسے هیڅ قسم به انشاء الله کوتاهی نه کیږی چه په هغے کښ به مونږه روستو یو او زمونږه دا ایمان دے چه مونږه مرو نو هم دِ زمونږ په ژبه باندے دا کلمه وی چه "لا اله الا الله محمد الرسول الله۔ شکریه۔

جناب سپیکر: جناب فتح محمد خان صاحب، پلیز۔

جناب نجم الدین ۔ جناب سپیکر ! Point of personal explanation, Sir. زما درخواست دا دے جی، دا واقعه شوے ده، اخبارکښ چه کوم راغلی دی نو په یکم جنوریٔ باندے شوے ده لیکن مونږه که مذهبی خبره راوړو اسمبلیٔ ته نو هغه هم تیر حکومت دا چل کړے دے، که بله خبره راوړو، مونږ خو دے ټولو ته دا درخواست اوکړو چه د یو مسلمان په حیثیت باندے خبره کول غواړی۔ زه سبحان خان ته خبره کوم چه تر ننۍ ورځے پورے دا واقعات کله شوی دی چه ته دومره د مسلمان خبره کوے؟ دا حکومت ټهیک ټهاک روان دے؟ تر ننۍ ورځے پورے د اسمبلیٔ په فلور باندے اووایه چه د دے کسانو خلاف تاسو کومه کارروائی کړے ده، کوم طریقه کار مو اختیار کړے؟ دے د هغه خبره اوکړی، ثابت نے کړیٔ ، دا نه ده۔ مونږه خو په حکومت تنقید نه دے کړے، مونږه یوه خبره د هغوی مخے له راوړے ده، یوه خبره مو د هغوی مخکښ ایښوده ده۔ که مونږ تقریر کوؤ نو هغوی دِ هغے نه الټا خبره جوړوی۔ دا خو ښه خبره نه ده جی۔ دا خو ډیره Serious خبره ده۔

جناب سپیکر۔ آنریبل فتح محمد خان صاحب۔ بس جی' .Please take your seat

وزیر جنگلات۔ شکریه۔ سپیکر صاحب! ما هسے بحیثیت د یو عام اسمبلیٔ ممبر هم دا خبره کوله جی، زما نمبر مخکښے وو خو چونکه د حکومت د طرف نه واضح چه کوم نکته نظر پیش شو او زما خو د خبرے مطلب دا وو، والټر سراج د هغے خبرے متعلق تفصیلی خبره هم سبحان خان اوکړه۔ والټر سراج خبره خو په بل رُخ باندے اغستے وه، هغه ترے دا جوړه کړه چه دا د Minority سره یو شان کیږی او د مسلمانانو سره بل شان کیږی، نو Minority سره او مسلمان سره په دے کښ فرق نشته دے جی۔ دے کښ چه کوم یو سړے دے خو البته دا یوه خبره به زه ټولو ممبرانو ته کومه او د ټول پاکستان خلقو ته هم سوال کوم چه دویٔ لږ غوندے هرے خبرے ته په صحیح او ژور نظر باندے گوری، داسے نه چه څوک مونږه ته یوه خبره اوکړی او زمونږه یو تن پاڅی چه اوس دومره سزا ورکړه، بل وائی چه نه، دا اوس پهانسی کړه او بل وائی چه دا قانون پاکستان کښ موجود دے، په دے ملک کښ موجود

دے، په هغے کښې سزاګانے موجود دی۔ زمونږه دے دوو ملګرو ډیر ښه کار اوکړو او خبره ئے پوائنټ آوټ کړه او هغه legal چه د دے څه Process دے، اوس به هغه کیږی او په دے کښې د والټر سراج په خبره کښې هیڅ صداقت نشته چه د مسلمان د پاره جدا قانون دے خو مونږ ترے دا هم نه جوړوو چه یره، یو حافظ وو، هغه پسے د ګاونډی ښځے دا مشهوره کړه چه ده د قرآن بے عزتی کړے ده، خلق راغلل او هغه ئے د پښے نه اونیوو او دومره ئے اووهلو چه په وهلو وهلو ئے مړ کړو او بیا ئے په سکوټر پورے اوتړلو او په ټول بازارونو کښې ئے اوګرځولو، آخر چه پته اولګیده نو هغه حافظ القرآن وو۔ نو مونږه دا هم نه غواړو یا دِ سُنی شیعه جنګونو - سُنی شیعه هم په دے باندے یو بل اولی، هغه وائی چه بس دا جهاد دے، ورځئ پرے او هغه وائی چه دا جهاد دے، ورځئ پرے، نو هغه ماحول هم نه دی پیدا کول پکار۔ مونږه ته پکار ده چه په صحیح او سنجیدګئ سره خبره پیش کړو او بیا هغه چه کوم Concerned ادارے دی، هغوی ته ئے پریږدو چه هغه په هغے خبرو غور کوی۔ مهربانی۔

جناب والٹر مسیح، جناب سپیکر صاحب! میں ایک بات کرنا چاہتا ہوں -----

## اراکین اسمبلی کی رخصت

جناب سپیکر، ایک سیکنڈ، یہ Leave applications میں بھول گیا تھا، پہلے آپ سے اجازت لے لوں۔ ذیل ممبران نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں:

جناب سردار محمد مشتاق صاحب، ایم پی اے نے 11-2-1999 to 12-2-1999 کیلئے، جناب فرید خان طوفان، ایم پی اے نے 11-2-1999 کیلئے اور سید رحیم خان ایڈوکیٹ نے 9-2-1999 تا 22-2-1999 کیلئے، تو Is it the desire of the House that leave may be granted to the honourable Members?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it, leave is granted.

## تحریک التواء

جناب والٹر مسیح، سپیکر صاحب! میں نے تو آپ سے یہ گزارش کی ہے کہ ہم اس چیز

کی حمایت کرتے ہیں۔ ہم نے تو حمایت کی ہے کہ جس طرح ہمارے مسلمان بھائیوں کے جذبات مجروح ہوئے ہیں یا ان کو ٹھیس پہنچی ہے جن لوگوں سے، ان کو سزا ملنی چاہئے۔ ہم نے تو اس کی مخالفت نہیں کی، ہم نے تو ان کی حمایت کی ہے اور سپیکر صاحب، جہاں تک تعلق ہے وال چاکنگ کا، وہ تو معمولی بات ہوتی ہے۔ پھر یہ تو ایک آسمانی کتاب ہے اس میں تو زبر او زیر کا فرق نہیں لایا جا سکتا۔ سپیکر صاحب! آپ یہ سوچیں کہ ہم تو ایک پاکستانی ہونے کے ناطے اس چیز کی حمایت کر رہے ہیں کہ یہ آسمانی کتاب ہے اس میں زبر زیر کا فرق بھی نہیں ہونا چاہئے اور وال چاکنگ پر (c) 295 کے تحت اگر اقلیتوں کو سزا مل سکتی ہے تو جو لوگ یہ کتاب چھاپ رہے ہیں، ان کو تو ڈبل سزا ہونی چاہئے۔ میں چاہتا ہوں کہ اگر میں یہ غلط کہتا ہوں تو آپ اس ہاؤس سے پوچھ لیں، رائے شماری کرالیں کہ میں غلط کہہ رہا ہوں؟ (قہقہے)

(آوازیں، آپ ٹھیک کہہ رہے ہیں۔)

وزیر بلدیات۔ سپیکر صاحب! والٹر سراج بالکل ٹھیک کہہ رہے ہیں جی۔ سپیکر صاحب!

Let us go with the other agenda.

جناب سپیکر۔ لیٹ ہوگا تو ٹائم ختم ہو جائے گا۔ یہ تو نہیں ہے کہ میں تمام دن بیٹھوں گا۔ میں تو ٹائم کو دیکھتا ہوں جس وقت ٹائم پورا ہو جائے گا تو Then I will adjourn the sitting. I am not going to stay here for the full night.

جناب اکرم خان درانی۔ جناب سپیکر صاحب! دا یوه ډیره خاص خبره ده جی- حقیقت دا دے چه په دے کښې نه دا خبرے پکار دی چه دا تیر گورنمنټ او د دے موجوده گورنمنټ، دلته مونږ سره زمونږه د اقلیت رورهم په دے کښې شریک دے- په دے پورا ایوان کښې زما خیال دے، داسے څوک نشته دے چه په دے باندے هغه اختلاف لری خو صرف خبره دا ده چه څنے مسئلے داسے وی چه هغے ته اهمیت ورکول پکار وی- زمونږ په قرآن پاک کښې چه څوک غلطی کوی، هغه به څنګه تاسو معاف کوئ یا هغه سړے د معاف کیدو دے؟ اوس صرف دا دی چه لکه گورنمنټ ته دا پکار دی چه په دے باندے قومی اسمبلئ کښې بحث شوے دے، په سینیټ کښې شوے دے نو زما خیال دے چه دے ته دومره وخت ورکول نه وو پکار چه دا خبره صوبے ته رارسیدلے وه، مرکزی گورنمنټ له، دوئ له په هفته کښې یو خاص ایکشن پکار وو چه

بیا په دے ملک کښې څوک داسے جرأت اونکړی او په دے خائے کښې زما خیال دے، په دے باندے هیڅ قسم اختلاف نشته دے۔ مونږ ټول په دے کښې شریک یو او د صوبے چه کوم اختیارات دی، دا قرآن شریفونه به راغلی وی، دا به په هره ضلع کښې موجود وی، چه هرے ضلعے ته دا هدایات اوشی چه د دے خلاف ایکشن واغستے شی، که هغه په پیښورکښې وی، که هغه په دے صوبه کښې وی، کوم خائے کښې چه وی او باقی د مرکزی ګورنمنټ نه، د پنجاب د ګورنمنټ نه زمونږه دا مطالبه ده چه لکه دا خبره نه ده، دوئ خو دِ فوراً ګرفتار کړے شی او څنګه سزا چه زمونږ رونړو اووے، هغه میاشتو کښې نه، ګلونو کښې نه، په هفته کښې هغوی ته ملاؤ شی۔

میاں افتخارحسین، جناب سپیکر صاحب! خبرے خو پرے ډیرے اوشوے۔ داسے خبره ده چه د ټولو نه فوری خو په دے یو قدم اغستل غواړی چه کم ازکم دغه کمپنئ خو د بیخی بنده شی او بیا دا کوم قرآن شریفونه چه دی، دا دِ حکومت په خپل تحویل کښې واخلی او دے نورو ته ستاسو په وساطت خواست کوؤ چه کومو دُکانونو ته دا قرآن شریفونه رارسیدلی دی، رضاکارانه طور باندے دِ دا حواله کړی۔ په دے باندے چه د خبر شی، بل دلته جی یو لفظ اوشو چه قرآن شریفونه * +، نو قرآن شریفونه * + جی، هغه دِ د دے کارروائئ نه حذف شی، دا هدیه کیږی۔ نو په دے وجه باندے دا د ترینه اوباسلے شی۔

جناب سپیکر، دا پکښې "هدیه" کیدل لفظ پکار دے۔ هغه دِ Delete شی جی۔

سید محمد صابر شاہ، جناب سپیکر! چونکه مسئله ډیره نازکه او ډیره اهم ده په قرآن شریف کښې د تحریف حوالے سره، دا یوه براه راست حمله ده او چونکه د دے تعلق مرکز سره دے او په صوبه کښې په دے باندے بطور مسلمان زمونږ Concern چه کوم دے، هغه په صوبه کښې دننه هم دے، نو زما دوه درے تجاویز دی۔ وړومبئ خبره خو دا ده چه د صوبائی حکومت د طرف نه دِ Straightaway په دے اسمبلئ کښې یو قرارداد پاس شی چه په پوره صوبه کښې د دے قرآن شریف په دے ناشر په مارکیټ کښې پابندی اولګی، پریس په ذریعه

---

* بحکم سپیکر صاحب حذف کئے گئے۔

باندے هم که خلقو ته پته نه وی او مارکیټ ته راځی چه دا خو څوک لولی نو هله پته لګی۔ نو دا شے د Guaranteed شی چه په صوبه سرحد کښې کم از کم په مارکیټ کښې چه دا شے، د حکومت د طرف نه یو شے راتلل پکار دی۔ دویم شے مونږ له دا کول پکار دی چه نن دا هاؤس یو Unanimous قرارداد دلته نه اولیږی چه At least بطور مسلمان زمونږ Concern چه کوم دے، په دے باندے مونږ کښې یو مکمل هم آهنګی ده او دا یو داسے یو ظالمانه فعل دے چه په کوم باندے زمونږه ټولو زړونه رنجیده دی او په دے باندے په مرکزی سطح باندے فوراً ایکشن واغستے شی۔ انشاء الله زه دا نن یقین سره وایم چه په دے باندے په صوبه کښې هم او په مرکز کښې هم مونږ خو، د اسلام ډیر وړوکی وړوکی خبرو د پاره کارروائی کیږی او دا خو زما په خیال ډیره لویه خبره ده، ډیره لویه خبره ده، انشاء الله په مرکز کښې به هم په دے باندے کارروائی کیږی لیکن بطور مسلمان مونږ له خپل دا یو Concern د دلته نه Show کول پکار دی او یو Unanimous قرارداد نن تلل پکار دی ۔ شکریه جی۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی پیر محمد خان !

<u>وزیر مذہبی امور</u>: شکریه، جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب! په دے باندے خو تفصیلی خبرے اوشوے۔ ما خو دے د پاره هغه ایکټ هم راغستے وو، وختی مے سټډی کړے هم دے خو خبرے پرے تفصیلی اوشوے، په زیات تفصیل کښې به نه خم۔ اصل کښې قرآن شریف چه دے نو دا خو زمونږ مذهبی کتاب دے او The Publication of the Holy Quran Elimination of Printing Errors Act, 1983, سره په دے کښې د دے تفصیل شته، یو خو د دے چه چهپائی څوک کوی نو په صوبه کښې به د هغے رجسټریشن کیږی، صوبائی اوقاف محکمے ته به هغه درخواست ورکوی، څوک چه قرآن شریف چهپائی غواړی او اوقاف والا د هغے هغه طریقه کار په دے کښې ټول درج دے چه داسے علماء به وی او حافظان به وی او د هغوی په نګرانئ کښې به، دوئ د هغے هغه کاپی سټډی کوی او روستو به ده ته اجازت ورکوی۔ په دے لحاظ دا صوبائی دائره کار کښې راځی خو مرکزی حکومت ته هم دے

کښې اجازت شته چه هغه په دے کښې بلکه په هر خائے کښې چه داسے دغه اوشی نو هغه پکښې اقدام کولے شی۔ بیا اکرم خان درانی لږه اشاره اوکړه چه په قومی اسمبلئ کښې په دے باندے خبره شوے ده۔ زمونږ د اطلاع مطابق په دے کښې څه کارروائی څه حده پورے شوے هم ده او هغه یوه اطلاع دا ده چه قرآنونه اکثر هغوی مارکیټونو کښې راغونډ کړے دی، کیدے شی بعض ځایونو کښې پاتے هم وی خو د دے دا چهاپنی والا په لاهورکښې دے نو براه راست د دے ځائے نه هغه زمونږ په اختیارکښې نه دے۔ د ایکټ لاندے د پنجاب حکومت سره د ده نیول اوهغه له سزا ورکول دی۔ دا د هغوی په اختیارکښې راځی۔ که دے صوبه کښې وے نو یقیناً چه څنګه د هاؤس جذبات دی نو د دغے جذبے لاندے به مونږ هغه سړی له څه سزا ورکړے وے۔ دا عبدالرحمان خان صاحب چه اول کوم د قرآن شریف څه حصه اولوستله، هغه اول لفظ کښې هغه خبره چه واضحه شوے ده چه دا د خدائے پاک قرآن دے، دے کښې هیڅ شک نشته۔ "ذالک الکتاب لا ریب فیه" دا د خدائے پاک قرآن دے او د خدائے پاک کتاب دے او هیڅ شک پکښې نشته۔ شک ځکه نشته چه الفاظ ټول د خدائے پاک دی۔ نو که یو لفظ کښې فرق راشی او څوک پکښې رد و بدل راولی نو بیا دے ځائے کښې هغه مفهوم به بیا بدلیږی ځکه چه د خدائے پاک قرآن دے او شک پکښې نشته نو دلته کښې بیا شک پکښې راځی نو په دے وجه د خدائے پاک قرآن د شک او شبے نه پاک دے۔ مونږ بحیثیت مسلمان په دے کښې هیڅ قسمه شک، شبه او مداخلت برداشت کولے نه شو۔ د هاؤس دا جذبه ده او زمونږ د اقلیتی رکن هم زمونږه ورور دے، هغه هم ډیره ښه او د یو ښے جذبے مظاهره اوکړه او ښه وائی۔ آسمانی کتابونه دی، تورات دے، انجیل دے، زبور دے او قرآن شریف دے، دا آسمانی کتابونه دی په دے ټولو باندے زمونږه ایمان دے او زمونږ پرے هم دا یقین دے چه مونږ د قرآن شریف نه مخکښې چه کوم کتابونه دی، زمونږ په هغے هم ایمان دے او که په هغے څوک ایمان نه راوړی نو هغه هم مسلمان نه دے۔ نو داسے هغوی هم د ښے جذبے لاندے چه دا هم د خدائے پاک کتاب دے او آسمانی کتاب دے نو په دے کښې دا رد و بدل هغوی هم نه برداشت کوی۔ نو دا لږه ډیره ښه د جذبے خبره ده۔ د

هاؤس دا جذبه چه کومه ده نو دا مرکز ته به مونږ هم اولیږو چه زمونږه صوبائی اسمبلۍ په دې ډیر سخت د غم او غصے اظهار اوکړو نو تاسو په دے کښې سخت اقدام اوکړئ او د هاؤس، د پیر صاحب د سفارش مطابق چه په صوبه کښې چه څومره قرآنونه د دے قدرت الله اینډ کمپنۍ لاهور چه دی، د ده چه کوم چهاپ شوے قرآنونه دی نو پریس به مونږ سره دا تعاون اوکړی چه دوئ به په خپل پریس کښې راولی چه سبانی اخبارونو کښې راشی چه په دے صوبانی حکومت پابندی اولګوله۔ زمونږ د طرف نه پرے پابندی ده۔ انتظامیے او پولیس ته هم مونږ هدایات کوؤ چه د سبا نه په دے ټوله صوبه کښې د دے پیسے اولګی چه چا سره وی، هغه دِ ضبط کړی او اول خو هغوی ته هدایت اوکړی چه واپس ئے کړی چه هغه کوم کتابونو والو سره، کتاب خانو والا سره هغه وی، پخپله واپس کړی او جمع ئے کړی که نه وی نو بیا به مونږ د هغوی خلاف اقدام کوؤ۔ که څوک داسے قرآنونه * + ، انشاء الله د دے سره به د هاؤس تسلی شوے وی او مونږ به په دے کښې ښه سختۍ سره عملدرآمد کوو۔

جناب سپیکر: جی، اورنگزیب خان۔

جناب محمد اورنگزیب خان: جی! سپیکر صاحب! ----

جناب سپیکر: لږ Legal side اوګوره، هغے کښې دا شے دے کنه۔ ټهیک ده، د هغوی خو یو Specific طریقه کار دے د هغه 294 لاندے خو تاسو د دے Penal side باندے لږ غوندے غور اوکړئ چه Penal Court کښې بعضِ بعضِ Offences که هغه، دا فرض کړئ چه یو شے دلته راغے، دلته اوشو نو I think. ما خو دا منسټر صاحب ته هم عرض اوکړو لږ داسے د Penal نه ډیر بهر، یو خو لاء ډیپارټمنټ دے، Grief باندے هم اوګورئ چه په هغے باندے به دوئ خپل غور کوی۔ ولے چه دا Offence, I think, now هاں، دلته شوے دے. And these courts have got the jurisdiction. اوس چه آیا دا سمن کیس دے که دا وارنټ کیس دے؟ دا کتل دی او که Cognizable وی نو بیا خو پولیس له فوراً پکار ده چه کیس پکښې رجسټرډ کړی۔

---

بحکم جناب سپیکر صاحب حذف کیا گیا

جناب محمد اورنگزیب خان: د 294 لاندے جی، پی پی سی لاندے Suo moto,

they should register a case against that company and they can.

جناب سپیکر: دا تاسو چه کوم ایکټ ته Apply کوئ، دا خو معمولی دغه دی، دے کښی خو به تاسو څه لوئے Procedure adopt کوئ، دا Penal offences کښی راځی، Rule 294 is there. میاں صاحب! تاسو Assist کړئ په دے باندے۔

وزیر مذہبی امور: څومره چه کیدے شی، مونږ به پرے سختئ سره په دے کښی اقدام کوو او د سبا نه خو مونږ اووے چه انتظامیه او پولیس به په دے پسے اولګی چه چا سره وی نو دهغوی خلاف به کارروائی کوو۔

Mr. Speaker: Mian Sahib, do you agree with this preposition?

294 لاندے دغه شته، Cognizable offence دے؟

میاں مظفر شاہ: بالکل جی، ګورنمنټ دِاوکړی۔

جناب سپیکر: ہاں۔

میاں مظفر شاہ: او جی۔

Minister for Law: Sir, whatever provision is relevant,

ہم اس کو Consult کر لیتے ہیں And he will be taken to task. This is a religious matter. اس میں جو کوئی بھی Involve ہو تو ہم اس کو پکڑتے ہیں۔

جناب سپیکر: جناب پیر صاحب! میرے خیال میں چونکہ، هغه منسټر صاحب داسے دغه اوکړو چه تاسو څه د پاره ریزولیوشن Request کړے وو نو هغه ریزولیوشن چه تاسو پاس کړئ نو هم دے ګورنمنټ ته به ځی۔ ګورنمنټ دا نن نه اوونیل، پریس والا ته نے هم اوونے او انتظامیے ته نے هم اوونے چه تاسو څه اوونے نو هغوی اوونیل چه په دے دِ عمل فوراً هم نن نه شروع شی نو بیا خو په دے کښی هسے نور څه خبره نشته۔ چه ګورنمنټ پخپله دا خبره کوی نو بیا ګورنمنټ ته د ریزولیوشن د لیږلو څه ضرورت نه پیښیږی او ---

وزیر مذہبی امور: جناب سپیکر صاحب! دے کښی دا یوه صحیح ده چه مرکز ته

لکه دلته په صوبه کښ خو مونږه په دے باندے په سختئ سره د قبضه کولو او------

جناب سپیکر۔ د هغے د پاره دِ دوئ بیا اوکړی کنه۔

وزیر مذہبی امور۔ مرکز ته سفارش دے د پاره چه هغوی هم داسے کار اوکړی۔

جناب سپیکر۔ زما خیال دے چه مونږ به اوکړو نو مرکز به پخپله کوی، بیا هغه Recommendation دے، That is just a recommendation.

سید محمد صابر شاہ۔ جناب سپیکر۔

جناب سپیکر۔ جی!

سید محمد صابر شاہ۔ جناب سپیکر! زما په خیال منسٹر صاحب چه کومه خبره اوکړه، دے کښ هغه ټولے خبرے Cover کیږی او بطور یو مسلمان دلته په دے اسمبلئ نه راځی لیکن چه حکومت ته د داسے یوے خبرے پته اولګی۔ هغوی د پاره یقیناً د هغے کارروائی کولو نه علاوه بله څه چاره نشته دے لیکن دا واقعه چه ده، دا یوه معمولی واقعه نه ده۔ چه چرته د چا په غاښ باندے درد راشی نو په هغے باندے هم دوئ قرارداد پاس کړی، که لوډشیډنګ اوشی، قرارداد به پاس کړی، نو آیا بطور مسلمانان، دے هاؤس په دے دومره لوئے ظلم باندے هم څه Concern شته کنه؟ نو دا یو Message دلته نه تلل چه کوم دی، دے سره نن دے کارروائی باندے اثرات د وجے دا قرارداد به ځی او په دے به بیا موثر کارروائی اوشی۔ نه، که په دے اسمبلئ کښ په دے بحث نه کیږی نو هم په دے باندے حکومت ایکشن اخلی لیکن دے معزز ایوان دا معامله څنګه واغسته؟ د یو مذمت یو Message تلل دی، دے د پاره ما دا Request کړے وو چه دا قرارداد تلل پکار دی۔

جناب سپیکر۔ تاسو که وایئ نو بیا تاسو Suspension د پاره دغه اوکړئ۔

وزیر اطلاعات۔ سر! تاسو که اجازت راکوئ نو -----

جناب سپیکر۔ ما خو صرف دومره پورے اووئے چه چونکه هغه مقصد حل کیږی نو---

وزیر اطلاعات۔ زه به دا قرارداد پیش کړم جی، تاسو ئے پیش کوئ جی، تاسو

وایئ جی۔

جناب نجم الدین: سر! مونږه دلته د رولز Suspension د پاره ----

حاجی عبدالرحمان خان: سپیکر صاحب! ما او نجم الدین خان به دوئ سره په شریکه جوړ کړو او بیا به نے پیش کړو۔

جناب نجم الدین: محرکین مونږه یو۔

سید محمد صابر شاه: په شریکه دِ جوړ شی، دے دغه کښی داسے څه شے نه دے کول پکار۔

حاجی عبدالرحمان خان: نجم الدین خان، ته ورسره کښینه او اولیکه یو دغه۔

سید محمد صابر شاه: دوه درے تنو ته تاسو اووایئ کنه چه دوئ نے جوړ کړی۔ سبحان خان به شی، د هغے غاړے نه چه هر څوک کوئ، تاسو نے خوښ کړئ او پینځو منټو کښی نے جوړ کړئ جی۔

جناب سپیکر: اوس خو ټانم ختم دے، دوئ دِ نے جوړ کړی، سبا به نے پاس کړو کنه۔ داسے خبره ده، سبا دِ راشی، د Suspension د پاره سبا اوکړئ۔

وزیر اطلاعات: نه سر، د نیکئ کار دے۔

جناب سپیکر: نو اُو نے کړئ۔

وزیر اطلاعات: که اوس رولز Suspend شی نو پیش دِ شی۔ د 240 لاندے تاسو رولز Suspend کړئ کنه جی۔

میاں ولی الرحمان: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔ میں بھی ایک دو باتیں اس ضمن میں عرض کرنا چاہتا ہوں کہ یہ حکومت سفارش کرے مرکزی حکومت سے کہ اس بے دین کمپنی کو جلد از جلد ختم کرکے ان کو سزا دی جائے۔ ہم سب مسلمانوں کا یہی مطالبہ ہے۔

جناب نجم الدین: سر! زه تاسو ته Request کومه چه د رول 240 لاندے مونږ ته د قرارداد، رولز Suspend کړئ ------

جناب سپیکر: داسے اووایئ چه .Rule 124 may be suspended رول 124 دے جی۔

سید محمد صابر شاه: جناب سپیکر! ما یو Request کړے وو، د فاضل ممبر د جذباتو زه قدر کومه، دا جذبه ایمانی ده خو زما په خیال نا یو ذمه دارانه

قرارداد دے، ما چه خنگه Request اوکړو که دا دوه درے تنه کښینی او یو Joint قرارداد پیش شی۔

جناب سپیکر: تاسو ړومبے Joint قرارداد اولیکئ، بیا به د Suspension د پاره اوکړئ۔

سید محمد صابر شاه: او جی۔

جناب نجم الدین: صحیح ده، سر۔

## توجہ دلاؤ نوٹس ہا

Mr. Speaker: Honourable Naik Amal Khan, MPA, to please move his 'Call Attention Notice' No. 787.

جناب نیک عمل خان: جناب سپیکر! میں صوبائی حکومت اور خاصکر صوبائی وزیر جنگلات کی توجہ اس اہم فیصلے کی طرف دلانا چاہتا ہوں کہ صوبے کی تقریباً اکثر سڑکوں اور نہروں کے کناروں پر کافی درخت خشک ہو چکے ہیں جو کہ اکثر چوری ہوتے ہیں اور سرکاری خزانے کو کچھ بھی نہیں ملتا۔ لہذا حکومت کو چاہیے کہ ان درختوں کو فروخت کرنے کا بندوبست کرے تاکہ قوم کے سرکاری خزانے کو کچھ نہ کچھ فائدہ حاصل ہو جائے۔

جناب سپیکر صاحب! په دے سړکونو او نهرونو باندے د پخوا زمانے نه "شوے" ولاړے دی او هغه زما په خیال چه د اربونو روپو "شوے" دی، هغه خلق بتولے په غلا باندے اوړی او په هغوی باندے هیڅ قدغن نشته دے۔ نه خو د فارسټ پولیس، نه رینجرز او نه نور سپاهیان د هغے د شپے څوکیداری کوی۔ هغه بتولے پریکړے کیږی۔ په کروړونو او اربونو روپئ دے سرکار ته نقصان دے۔ مهربانی دِ اوکړے شی دغه اونے چه څومره دی، هغه دِ نیلام کړے شی، خزانے ته خو به نے هغه پیسے راشی کنه که نور څه نه وی، کنی دغسے غلا کانے به کیږی۔

Mr. Speaker: Honourable Minister for Forest, please.

وزیر جنگلات: بشکریه، سپیکر صاحب۔ د نیک عمل خان چه دا کوم توجه دلاؤ نوټس دے، دے سره زه سو فیصدی متفق یم او دوئ چه کومے خبرے کړے دی، زما لفظ به لفظ د دوئ د خبرے سره اتفاق دے او دوئ مخکښ هم

مهربانی کړے ده او ما سره نے ډیر خله دا خبره کړے وه او بهادر خان هم کړے وه او دا نور زمونږ چه کوم خوږ مند خلق دی، هغوی هم کړے وه چه دا ضیاع ده خو چونکه د لسو، دولسو، پنځلسو کالو نه دا تباهی مسلسل راروانه ده او هغه وخت کښې زما په خیال حکومتونو به هم دا سوچ کړے وی چه دا که مونږه اجازت کوؤ نو هم کټ کیږی او که نه کوو نو هم کټ کیږی نو هغوی څه وخته پورے بیا خان پرے غلے کړے وو او د هغے په وجه باندے مزید اونے هم ډیرے زیاتے اوچے شوے او څه خو خلقو دا طریقه لاندے کړے ده چه هغه لاړ شی او زیلو ته نے څه دوانی واچوی یا ترے پټ اوباسی ، نو د هغے سره هم هغه اوچیږی، نو دا تباهی راروانه ده او اوس مونږه بیا د هغے د تدارک د پاره خو هم کوشش کوؤ خو هغه موثر تدارک د دے څکه نه شی کیدے، د بدقسمتیٔ نه چه زمونږه با اثره خلق چه دی، هغه پکښې هم شامل وی، پولیس پکښې هم شامل وی، انتظامیه پکښې هم شامله وی، د فارسټ محکمه پکښې هم شامله وی نو هغه کارکیږی- بیا د هغے د پاره مونږه اوس لسټونه جوړ کړی دی او د هغے په هغه کېټانیٔ باندے شروع کړے ده او ورسره ورسره مونږ دا هم ونیلے دی چه کومے شنے ونے دی، د هغے مارکنګ ورسره هم اوشی چه پته لګی- د انګریزانو په وخت کښې به مارکنګ موجود وو، زمونږ په وخت کښې ورسره مارکنګ هم ختم شوے دے- دا پته نه لګی چه څومره اونے دی، په دے لائن باندے څومره دی، په دے نهر څومره دی؟ که څوک ترے کټ کړی چه څومره نے کټ کړے، څومره پاتے شوے؟ نو هغه ورسره مونږ هم شروع کوؤ او دا ورسره هم شروع کوؤ او ورسره چه دویٔ څنګه اوونیل چه نوے اونے پرے لګویٔ، د هغے د پاره هم طریقه کار مونږه د پوره حده پورے وضع کړے دے- چه کومے کټ کیږی، د هغے د پاره به نورے اونے لګی او زه د دویٔ مشکور یم، دویٔ ډیره ښه خبره کړے ده- مخکښې نے هم ډیر خله ما ته دا خبره کړے ده-

<u>Mr. Speaker:</u> Honourable Hameedullah Khan, MPA, to please move his Call Attention Notice No. 791.

جناب حمید اللہ: جناب سپیکر صاحب! آپ کی وساطت سے حکومت کی توجہ اس جانب دلانا چاہتا ہوں کہ تیمرگرہ تا گل روڈ کی حالت انتہائی خراب ہے، زیادہ رش کی وجہ سے عوام کو سخت مشکلات کا سامنا کرنا پڑتا ہے، لہذا حکومت کی توجہ مبذول کرواکر وضاحت چاہتا ہوں کہ آیا حکومت مذکورہ سڑک کو دوبارہ تعمیر کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

سپیکر صاحب! د روغ تحصیل روډ حالات داسے دی چه په دے باندے هیڅ شے نه شی تلے۔ هغه روډ مکمل خراب شوے دے۔ په تیره اسمبلئ کښې هم زمونږ سره وعده شوے وه چه دا به په اے ډی پی کښې شامل کړو خو شامل نے نه کړو او که سخکال نے راله شامل کړی نو ډیر ښه کار به او کړی، خو منسټر صاحب نشته نو ----

جناب سپیکر: منسټر صاحب شته دے، جواب درکوی۔

وزیر بلدیات: سید علی شاہ صاحب کی طبیعت ذرا ٹھیک نہیں تھی، ان کے Behalf پر میں یہ کہوں گا کہ ان کا روڈ As such فی الحال نہ ADP میں Reflected ہے اور نہ کریش پروگرام کے First Phase میں Adjusted ہے۔ بہرحال محکمہ خود بھی یہ سمجھتا ہے کہ یہ روڈ کافی ضروری ہے تو اس ہاؤس کی وساطت سے، جس طرح انہوں نے کوئسچن بھی کیا ہے، We will send recommendation to the Department کہ Next ADP میں یا کریش پروگرام میں اس کو Include کیا جائے۔

جناب حمید اللہ: مہربانی، سر۔

Mr. Speaker: Honourable Zareen Gul Khan, MPA, to please move his 'Call Attention Notice' No. 800.

جناب زرین گل: ډیره شکریه۔ محترم سپیکر صاحب! حکومت کی توجہ اس جانب مبذول کرانا چاہتا ہوں کہ ہری پور چھپر روڈ اور دربند تا کوٹ روڈ جو شینگل اور کافی کارآمد روڈ ہے، جسے شارع ریشم کے متبادل کے طور پر استعمال کیا جا سکتا ہے، لہذا بذریعہ توجہ دلاؤ نوٹس حکومت کی توجہ اس جانب مبذول کروانا چاہتا ہوں کہ مذکورہ سڑک کو کشادہ اور بلیک ٹاپ بنانے کیلئے حکومت اس کی جامع منصوبہ بندی کرے اور روڈ کو NHA کے حوالے کرے۔

محترم سپیکر صاحب! دا ډیر د اهمیت حامل روډ دے او دا د شاهراه

ریشم متبادل روډ دے او چه کله تربیله ډیم جوړشو نو د تربیله ډیم نه پس واپډا اولګیده او دا ئے فرنټیئر ورسک آرګنا ئزیشن پراجیکټ ته حواله کړو۔ دا تقریباً څه ډیړه سو کلومیټر په فاصله باندے دے او په دے روډ کښې تقریباً اته صوبائی حلقےراځی او چونکه شاهراه ریشم بعضِ وخت کښې د برف باریٰ، د بارانونو یا د لینډ سلائیډنګ د وجه کله کله بندیږی، خصوصاً چتر پلین، بټګرام او د مانسهره ترمینځه دا واحد روډ دے چه د سیند په غاړه غاړه تقریباً په پنځوس، شپیته کروړه روپو باندے په سخت Rocky ایریا کښې دا تعمیر شوے دے۔ اوس که حکومت دے ته توجه ورکړی او دا NHA ته حواله کړی نو دا د شاهراه ریشم زبردست متبادل دے۔ دا هیڅ کله نه بندیږی- یو د دے نه علاوه ملاکنډ ډویژن دے او دا ټولے ضلعے یو بل سره مربوط کیدے شی۔ نو دا په دوه فیزز کښې، یو فیز دے چه د هری پور او چپر روډ ورته وائی، دویم فیز ته دربند تاکوټ روډ وائی، نو په دے باندے دِ حکومت توجه ورکړی نو دا به ډیر کارآمد روډ وی۔

<u>وزیر بلدیات</u>: شکریہ، سپیکر صاحب۔ زرین گل خان نے دو مختلف روڈز کے بارے میں پوائنٹ آؤٹ کیا ہے۔ چھپر روڈ 95 کلومیٹر ہے، انہوں نے لکھا ہے کہ یہ شینگل روڈ ہے تو یہ شینگل روڈ نہیں ہے جی، This is a mettal road. As far as the Chapher road is concerned، ہزارہ کا It is one of the very important roads اور اس روڈ کو چونکہ FWO والوں نے واپڈا فنڈ سے بنایا تھا، That was an alternative route towards the villages کیونکہ ان کی آمد و رفت تربیلا ڈیم کی وجہ سے بند ہوگئی تھی، تو اس مالی سال میں کریش پروگرام میں ان کو 22.294 Million کی Allocation کی گئی ہے اور چونکہ 95 کلومیٹر کافی بڑا روڈ ہے تو اس کو باقاعدہ Phase-wise صحیح طریقے سے Repair کیا جائیگا۔ تاہم دربند تاکوٹ روڈ شنگل روڈ ہے اور اس مالی سال میں اس کو 8.254 Million کی Allocation ہو چکی ہے اور وہاں کام جاری ہے۔ انہوں نے ساتھ بلیک ٹاپنگ کا بھی کہا ہے تو فی الحال صوبے کی مالی پوزیشن ایسی نہیں ہے کہ اس پورے روڈ کو بلیک ٹاپ کیا جائے لیکن جس طرح On going project ہے، اس کیلئے ہم نے تقریباً 82 لاکھ روپے کی رقم اس مالی سال میں رکھی ہوئی ہے۔ NHA اگر سی اینڈ ڈبلیو سے Take over کرے تو یہ بڑی خوشی کی بات ہوگی

لیکن I am very doubtful that if we request them to take over, they will not accept it because جیسے ہمیں Recurring cost لاکھوں کروڑوں روپے کی پڑ رہی ہے، وہ NHA کو دینی پڑے گی اور میرے خیال میں وہ نہیں لیں گے۔ بہرحال اگر ان کو کوئی اعتراض نہ ہو تو ہماری طرف سے کوئی اعتراض نہیں ہے۔ اگر وہ لینا چاہیں تو They are most wel come and our Department can write a letter to them کہ جی اگر آپ لینا چاہیں تو ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے۔

Mr . Speaker: Honourable Haji Bahadar Khan , MPA , to please move his Call Attention Notice No. 801.

حاجی بہادر خان (دیر)، شکریہ۔ سپیکر صاحب! حکومت کی توجہ اس جانب مبذول کرانا چاہتا ہوں کہ محکمہ زراعت نے آبپاشی کیلئے ضلع دیر میں بعض ایم پی ایز حضرات کے توسط سے کاشتکاروں کو واٹر پمپ دیئے ہیں جبکہ میرے حلقے کے کاشتکاروں کو نظر انداز کیا گیا ہے اور آبپاشی کیلئے کوئی واٹر پمپ نہیں دیا گیا۔ لہٰذا حکومت سے وضاحت چاہتا ہوں۔

جناب سپیکر صاحب! په تیر شوی حکومت کښې د پښتو د اوبه خور د پاره ډیزلی پمپونه، موټرے او ډک ویلونه وو، په هغے کښې مونږه د منسټر صاحب سره بار بار رابطه اوکړه خو مونږ ته دا پته اولګیده چه یو ممبر صاحب له نے څه پمپونه ورکړی دی او نور پاتی وو۔ نو د هغے دِ مونږ ته څه وضاحت اوکړی چه آیا زمونږ د علاقے د زمیندارو پکښې څه حصه شته دے که یوازے د دوئ دی؟ نو که دغه وی نو زه دوئ ته درخواست کومه چه مونږ ته دِ هم خپله حصه زمونږ د حلقے زمیندارو له ورکړی خکه چه څنګه Feasible د دوئ دی، دغسے ټول دی۔ دا ډک ویلے چه دی نو دا دغه شان هلته نه دی Feasible لکه کوم چه زمونږ په حلقه کښې دی۔ پخوانے طریقه کار به دا وو چه دا به د DDAC د ایکټ لاندے کیدل، د DDAC میټنګ به باقاعده په هغے باندے به کیدو۔ هر ممبر ته به خپله خپله حصه حواله کیدله۔ اوس دوئ د هغے نه تجاوز کړے دے۔ نو زه دا درخواست کومه چه دغه باقی چه دی نو دا دِ زمونږه هغه زمیندارو ته په حلقه کښې ورکړی۔

جناب سپیکر: جی میاں خیل صاحب، یہ مائیک ذرا اپنی طرف کریں۔ ہاں جی تھینک یو۔

جناب ثناء اللہ خان میاں خیل (وزیر زراعت)، جناب سپیکر! جناب آنریبل ممبر، بہادر خان صاحب نے توجہ دلاؤ نوٹس کے ذریعے نکتہ اُٹھایا ہے، میں سمجھتا ہوں کہ واقعی یہ سکیم بہت پہلے Approved ہوئی تھی اور PC-I میں جو Allocations ہوئی تھیں، ان کے ضلع کو بھی According to PC-I, allocations کی گئی ہیں۔ چونکہ اس میں خاص Specification ہے تو میں نے ڈیپارٹمنٹ کو واضح طور پر یہ کہا تھا کہ اگر کہیں غلط جگہ پر کوئی چیز نصب ہوئی تو ان کے خلاف کارروائی کی جائے گی، لہٰذا اس کی مکمل چھان بین کر کے اس کے حق داروں تک چیز جانی چاہئے۔ تو اس سلسلے میں اس وقت جو مجھے رپورٹ دی گئی تو ان کے ضلع میں چودہ پمپ دیے گئے ہیں جو ان کے حق دار تھے یا Feasible تھے، PC-I کے مطابق جتنی Holding ہونی چاہئے، اس میں اس قسم کا ڈگ ویل ہونا چاہئے۔ جو بھی اس میں ہے تو اس کے مطابق چودہ پمپ تقسیم کئے گئے ہیں اور عوامی نمائندوں کی سفارشات کو بھی مد نظر رکھا گیا ہے اور مجھے یہ رپورٹ ملی ہے کہ وہ ان کے ساتھ رابطہ کر رہے ہیں، ان کے ساتھ رابطے کا فقدان ہے اور ابھی تک ان کی Recommendations موصول نہیں ہوئی ہیں تاکہ وہ جاکر اس جگہ کی Feasibility کو Observe کریں اور میں ان کو یہ Assure کرانا چاہتا ہوں کہ جہاں جہاں پر بھی ان کے حلقوں میں Feasible ہے اور جتنی Allocation ہے، اس کے مطابق انشاء اللہ ان کو نہ کبھی محرومی ہوگی اور نہ اس میں کمی ہوگی اور انشاء اللہ ان کی Recommendation کو Honour کیا جائے گا۔

جناب محمد ہاشم خان (دیر)، ضمنی خبره کوم، ضمنی دے سره خبره کوم -----

جناب سپیکر، ضمنی نه وی، دا خو 'Call Attention Notice' دے۔

جناب محمد ہاشم خان (دیر)، ښه جی۔

جناب سپیکر، هاشم خان! کښینئ جی۔ (قہقہے)

حاجی بہادر خان (دیر)، ما عرض کوؤ جی، د منسټر صاحب زه مشکور یمه او ډیر ښه دغه نے اوکړو خو زه دا عرض کومه چه دا چوده پمپونه نے چه ورکړی دی، سر، دا نے خالص د یو ممبر صاحب په Recommendation ورکړی دی۔

جناب سپیکر، جی، تاسو ته نے خپله دغه Assurance درکړو۔ بهادرخان

صاحب ورکړی دی او که نه دی ورکړی؟

جناب نجم الدین، جناب سپیکر صاحب! هغه قرارداد چه ----

جناب سپیکر، یو منټ، یو کس پاتے دے، د دے نه پس۔

جناب نجم الدین، سر! مونږه وایو چه دا دستیٰ کښې پاس کړو، بیا به د هغے نه وروستو خبره اوکړو۔

جناب سپیکر، یو منټ، آخرینے دا توفیق خان پاتے دے۔

جناب نجم الدین، ښه جی۔

Mr. Speaker: Honourable Taufiq Muhammad Khan, MPA, to please move his Call Attention Notice No. 819.

جناب توفیق محمد خان، ډیره مهربانی، سپیکر صاحب۔ "محترم سپیکر صاحب! اسمبلی کی کارروائی روک کر ایک اہم مسئلے کی طرف توجہ دلاتا ہوں کہ ڈسٹرکٹ کونسل مردان کے فنڈز منظور نظر ایم پی ایز صاحبان اور سیاسی تنظیموں کو غیر منصفانہ طریقے سے دیئے جا رہے ہیں جو کہ سراسر زیادتی ہے۔ لہٰذا اس پر بحث کی اجازت دی جائے"۔

محترم سپیکر صاحب! منسټر صاحب خو زمونږ ډیر نیک سړے دے، ښه سړے دے او زمونږه خو توقع تړے نه وه، دا اوس هم نشته او دا مو پوره یقین وو چه دا د ډسټرکټ کونسل فنډ داسے مد دے چه دے ته کوم Income راځی نو دا به Rural د دغه راځی، د دیهاتو نه راځی او په دے فنډ کښې د هر یو دیهات خپله حصه ده، د خپل Constituency، نو دا داسے نه دی پکار چه یو حلقے ته د هغه توجه شی یا داسے ځایونو ته شی چه هلته کښې د دے فنډز لګول مناسب نه دی۔ زه منسټر صاحب ته خواست کومه که د دوئ په Powers کښې وی، ځکه چه کیدے شی چه د دوئ په Powers کښې دا خبره نه وی، چه اوسه پورے چه دا کوم تقسیم کارروان دے نو په صحیح طریقه نه دے روان، ځکه چه فنډ لګیا دے ختمیدو والا دے او دوئ مونږ ته دا ونیلی وو چه منصفانه طریقه باندے د هر یو ممبر چه څومره حصه کیږی نو په Developmental side باندے دا مونږه هغوی ته ورکوؤ۔ نو زه چه څومره ګورمه نو هغه فنډ په داسے طریقه روان دے چه هغه په یوه حلقه یا په دوه

حلقو کښې یا په دریو حلقو کښې، باقی ترینه هغه محرومه پاتے کیږی- په دغے کښې د دے نورو حلقو هم حق دے خکه چه دا فنډ راخی نو دا د ملونو نه راخی، دا د چونګیانو نه راخی، دا د پلونو نه راخی، په دے کښې د هرے حلقے حق دے- پکار دی چه دا فنډ په هره حلقه کښې اولګیږی، هغه د دوی خوښه ده چه هغه د ایم پی اے په Through لګی او که پخپله نے لګوی خو په هره حلقه کښې پکار ده چه دا اولګی- نو دا زه منسټر صاحب نه توقع لرمه چه دا به د انصاف په تقاضه باندے پوره تقسیم شی-

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

وزیر بلدیات: جناب سپیکر صاحب! توفیق خان نے بالکل درست فرمایا ہے- فنڈ کی ابھی تک 50 % utilization بھی نہیں ہوئی- جو Developmental funds اس وقت پڑا ہوا ہے، میں نے Concerned Administrators کو ہدایت کی ہوئی ہے کہ جن ایم پی ایز حضرات کو ابھی تک فنڈز نہیں ملے ہیں' ان سے ان کے اپنے حلقے کی Recommendation لیں اور مجھے پہنچائیں- انشاء اللہ سارے ایریا کے جو ڈسٹرکٹ ہیں' ان کو فنڈ ہم دیں گے- پانچ ایم پی ایز ہیں' تین ایم پی ایز کے کام کچھ نہ کچھ شروع بھی ہو چکے ہیں' کچھ پرابلم بھی تھے تو یہ بھی اپنی Recommendations دیں' انشاء اللہ ان کو بھی دیں-

جناب توفیق محمد خان: جناب! پکار دے چه Equal اوشی-

جناب سپیکر، نجم الدین خان! څوک به Move کوئ او د Suspension به څوک وائی؟

## قاعدے کا معطل کیا جانا

جناب نجم الدین: جی زه به تاسو ته Request کومه چه 124 لاندے، زه دا Request کوم چه قرارداد مونږه رااوړو او د هغے د پاره تاسو -----

جناب سپیکر: تاسو دا غواړئ چه Rule 124 د Suspend شی او مونږ ته دِ اجازت راکړے شی-

جناب نجم الدین: مونږه ته دِ اجازت راکړے شی چه قرارداد پیش کړو جی-

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that rule 124 may be

suspended and the joint resolution, which is being moved by Honourable Member, Najmuddin Khan, MPA ----------

جناب نجم الدین: مونږ خلور کسان یو۔

سید محمد صابر شاہ: دے خلورو ما ته اختیار راکړے دے۔

Mr. Speaker: By Pir Sabir Shah, MPA, on behalf of the other signatories.

سید محمد صابر شاہ: په دے کښں زه د عبدالرحمان خان ------

جناب سپیکر: یره جی، د رولز Permission ورومبے راکړئ۔

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that rule 124 may be suspended?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The rule stand suspended, Now Janab Pir Sahib.

سید محمد صابر شاہ: مهربانی جی۔ صرف دا ونیل غوارمه د دے قرارداد پیش کولو نه مخکښے چه مونږ سره عبد الرحمان خان، نجم الدین، عبدالسبحان نه علاوه اقلیتی ممبر والټر سراج هم په دے قرارداد کښں دستخط کړے دے۔

جناب سپیکر: دا اولولئ جی۔

## قرارداد

سید محمد صابر شاہ: "یہ اسمبلی متفقہ طور پر قدرت اللہ اینڈ کمپنی لاہور کے شائع شدہ قرآن شریف میں جو تحریف کی گئی ہے اور تمام مسلمانوں کے جذبات کو مجروح کرنے کی مذموم اور ناپاک جسارت کی گئی ہے، اس پر اپنے غم و غصے کا اظہار اور مذمت کرتی ہے اور مرکزی حکومت سے قرارداد کے ذریعے مطالبہ کرتی ہے کہ قدرت اللہ اینڈ کمپنی کے خلاف آئین اور قانون کے تحت کارروائی کرکے اسے سخت ترین سزا دی جائے"۔

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that the resolution moved by honourable Pir Sabir Shah, MPA along with others, may be passed?

(The motion was carried.)

<u>Mr. Speaker</u>: The 'Ayes' have it. The resolution is passed unanimously. Thank you very much. The sitting is adjourned and we will re-assemble tomorrow at 10.00 A.M.

---

(اسمبلی کا اجلاس جمعہ 12 دسمبر 1999 دس بجے صبح تک کیلئے ملتوی ہو گیا۔)